مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۳/۰۸

# ښځه‌توب او مورولي،

## په افغان ټولنه کې ترټولو ستونزمن کار

### د ښځو نړیواله ورځ

د ښځې له‌لاسه د قلم اخستل او بېلچه ورکول، د کوم ځای قانون دی؟

کومې څه مې چې پخوا د ښځو د حقونو د ترلاسه کولو له‌پاره لیکلي دي، د هغو په ترڅ کې مې په مستند ډول د افغان ښځو مظلومیت په نښه کړی دی او ورسره مې شته ستونزو ته حللارې هم د وړاندیز په ډول لیکلي دي؛ له دې ټولو سره د افغان ښځو د ژوند حالت نه یوازې نه دی ښه شوی، بلکې نور هم پسې خراب شوی، شړېدلی، سوځېدلی او د بربادۍ د کندې پرغاړه درول شوی دی.
په یادو لیکنو کې مې چې د افغان مېرمنو د ژوند د بېلابېلو اړخونو ستونزې یادې کړې وې، هغه اوس په ناسور زخم بدلې شوې دي، موږ خو پرېږده، له نړیوالو هم حللارې ورکې او د مداوا لارې‌چارې هېرې دي.

د افغان ښځو او نجونو پرمخ د هیلو ټولې دروازې ورتړل شوې دي، نو ایا په داسې حالاتو کې به په افغنستان غوندې ټولنه کې ښځه‌توب او مورولي ترټولو ستونزمن کار نه وي؟

په دغسې شرایطو کې به څوک څنګه او په کوم مخ د کومې ښځې په ادرس دا جمله ولیکلي یا ووایی چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د مارچ اتمه د ښځو نړیواله ورځ دې مبارک وي.

د افغان ښځو حالت د نړۍ په هره تله او قانون کې چې واچول شي وتلل شي وارزول شي، بیا هم منقي دی داسې منفي چې برید او سرحد نه لري. یوه وړه بېلګه یې یو قلموال داسې رسامي کړې ده:

«زه دېښتانه لور یم

چې لږ پېغلوتې شم دولور په بیه هر کس ناکس ته ودیږم چې ناوي شم پر دیوالونو څېپا کې تېم
چې مور شم دوړي اولاد دچیغو له لاسه بېخوبه یم چې کونډه شم دحیوان په څیر دغواوو خرو او وزو په څیر دمیراث خورو میراث مال یم

هر چاته که یې کښینولم زه دشکایت حق نه لرم که مې شکایت وکړ بې پلاره کم اصله رنډۍ او بدنوغې یم

خو کله کله ماته دلمر رڼا هم په تور څادر کې نیم کښه مخ را ښکاره کړي
یعني زه هم دانسانیت څیره په خوب کې ووینم

مالا دانسانیت څیره په خوب کې نه وي لیدلي چې دزماني سړه سیلۍ را والوزي دکتاب پاڼې مې وشلوي کتابچه مې پاڼې پا نې کړي پنسل مې په مخه یوسي

اوزه دکندر دیوال شاته پټې اوښکې وڅڅوم

ځکه

دستم باد راته وایي ښځه چې بېشرمه شي نو ژړا یې دلېمو په چینو کې تیاره ناسته وي
زه دېښتانه لوریم

ګمنامه یم تاسې مې نه پېژنئ؟»

د ښځو نړیواله ورځ دې مبارک وي!

که مو غوښتل چې د لیکوال نورې لیکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځای کلیک کړئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ